ایمل « مرووند »
د نشر نیټه : ۱۱ مارچ ۲۰۱۳ میلادی

# ختیځ ادبي بهیر خپله ۳۳ مه غونډه ترسره کړه

د ۱۳۹۱ کال د جمعي په مبارکه ورځ ختیځ ادبي بهیر ملګرو خپله ۳۳مه اونیزه غونډه د جلال اباد ښار د میدوتیک په انګړ کې ترسره کړه.

غونډه دیدار صافي د قران عظم الشان د څو مبارکو ایاتونو پر تلاوت پرانیستله.مشران میلمانه یې نجیب الله نایل او عبدالقدیر ملنګیار وو.

د دریځ چارې د تل په شان جمال ثاقب سره وې او ګزارش یې ایمل مرووند لیکه.

په سر کې د علومو اکاډمی د غړي سید نظیم سیدي او یحیئ سیمز د پلارونو د وفات له امله بهیرالو د هغوی روحونو ته د دعا لاسونه لپه کړل او د جنت فردوس غوښتنه یې ورته وکړه.

د دود سره سم د تیرې ناستي ګزارش ایمل مرووند ولوستلو که څه هم د بهیروالو لخوا یې د لیکلو او لوستلو ستاینه وشوله، خو احمد جمال جمال وویل چې د ګزارش پر یو ځای کې راغلي دي چې ( هیله یې څرګنده کړه) له انده یې که داسي راشي چې ( هیله یې وکړه ) ښه به راشي.

عرفان الله بیدار بیا په ګزارش کې د ځینو داسي کسانو د نومونو راوستلو ته ګوته نیوله چې تکراري راغلي وو او ځیني یې بیا په غونډه کې نه وو.

وروسته د ننګرهار د دارالمعلیمین د پښتو څانګې استاد ضیاالرحمان حصرت په پښتو شعر کې د استعارې په کارونه ادبي درس وړاندې کړ او د بهیروالو پښتنو ته یې ځوابونه وویل.

تر ادبي درس ورسته یوه ازاده مشاعره وشوله چې دغو ښاعلو په کې خپل شعرونه وویل:

بختیار ساحل، بصیر احمد تلاش، دیدار ساپي، ضیاالدین همت مل، احمد جمال جمال، عرفاناالله بیدار، اکمل ظاهر،الفت پاڅون، فضل حق سعید، واحدالله ساحل، هدایت الله شیدا، خالد خالقیار، حفیظ الله

**نظيمي، عبدالرحمان وفا، غزت الله ځواب، ډاکټر خيرالله خيال، عبدالله هوډ، رحمت ګل سوکال، فريدالله ملاتړ، نـهضت شيرزاد، صدق الله صادق او سمندر ساحل.**

**تر ازادۍ مشاعرې ورسته د دې اونۍ مشر ميلمه نجيب نايل مننه وکړه، چې د بهير د اونيزې ناستې د مشرۍ چوکۍ يې ورته وکړه او خوښي يې ښکاره کړه، چې د ختيځ ادبي بهير فعاليتونه ډېر ښه روان دي .**

**نوموړي تمه وښودله چې د ادب د پرمختګ او د ځوانو استعدادونو په روزلو کې به ختيځ ادبي بهير يو ښه مرکز ثابت شي او ثابت شوی دی.**

**غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسيدله.**

**رپورټر: ايمل « مړوند »**

**[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org) – بازگشت به صفحه اصلی**